فهیم پښتون وردک
۲۰۱۲/۱۰/۱۹

# د افغانستان ستونځه څه ده؟

د الله تعالی په سپېڅلي نامه!

د افغانستان ستونځه سیاسي او نړیواله ده٠ سیاسي ځکه ده چي زموږ د ټول هېواد او ولس ستونځي په کي نغښتي دي له ډله ایزو وژنو، ځان مرګو بریدونو څخه نیولي بیا تر ډله ایزو جنسي تیریو ، تښتونو، چور تالا، بډو او قانون ماتولو پوري٠ نو موږ وېیلای شوو چي زموږ هېواد او ولس جنایت او جنایت کوونکو ته یرغمل ګرځول شوی دی٠
او نړیواله په دې ده چي د دې ټولو لویو لویو ستونځو تر شا او د جنایت او جنایت کوونکو ملاتړي نړیوال سیاسیون او ځیني ګټه پالي کړی دي٠
زموږ کورنی ستونځه کي یوه لویه تشه همدا ده چي زموږ ولس د یوه سیاسي ځواك او ګوند په جوړولو کي پاتي راغلي دی٠ نورو پوځي او سیاسي پردی پالو جوړښتنو ازموینه پدې ناکامه شوه چي دوی هم په خپلو جوړښتونو او ګوندونو کي بې جرګي او بې ولسه تګلارې او پردی کړنلارې درلودلي او هم یې ولس پالـه ګوندونـه پـه ډېره ناځوانی سره وځپل.
او د پاسنیو یادشویو جنایتونو تر سره کوونکو ملاتړي خو هم زموږ د هېواد بچیان دي چي موږ په خپله په دې کي پره یوو٠ په دې کي که همدومره پردي پره دي بیا همدومره موږ هم پره په دې یوو چي موږ ټول د نورو څخه تمه لروو چي یو بل څوك راته یو څه وکړي٠
د دې سیاسي او نړیوالي ستونځي پر وړاندي زموږ د ولس چلند:
لکه څنګه چي پاس مو دا خبره جوته کړله چي زموږ هېواد او ولس ستونځه سیاسي او نړیوالـه ده او افغانستان جنایت او جنایت کوونکو ته یرغمل ګرځول شوی دی نو زموږ د هېوادوالو او په ځانګړي توګه ځوانانو غبرګون پـه پینځو لارو ښوول کېږي؛
۱- په حاکم نظام کي د جنایت او جنایت کوونکو سره لاس یو کول او دا خپل ولس او هېواد نور هم کړول او د تباهی کندي ته یې ورټېل وهل؛
۲ - د اوسنیو ګوندونو او حاکم نظام په چوکاټ کي او د سیاسي جارچیانو او شخسي ګټه پالو (اپرچونېسټانو) تر څنګ د څو پیسو او څوکیو لپاره خپل وجدان تر پښو لاندې کول او ددوی تر مشری لاندې دا ټول جینجړتوب او بې درېځه سیاست ته ادامه ورکول ٠ او د همدې شته ګوندونو د مشرتابه، د سیاسي جارچیانو او شخسي ګټه پالو (اپرچونېسټانو)، چي ګوندونه او ولسونه په ډېره چالاکی د خپلو شخسي ګټو لپاره چلوي، تر څنګ بـه د لویو لویو جنایت کوونکو او غدارانو تر وزر او سیاسي سوټك لاندې د څو ماموریتونو او ټنګو لپاره کار کول٠
۳- د نظام او حکومت پر وړاندې وسله واله مبارزه کول او داسي وسلي ته لاس اچول چي مشران یې بې سیاسته او بې درېځه د پاکستان او ایران او ځینو نورو استخباراتي کړیو په ولکو کي لوبلول کېږي ٠ چي د ۱۹۹۰مو کلونـو د ترخي تجربې تکرار یې سل په سلو کېدونکی دی٠
۴- د سیاست او مبارزې میدان پرېښودل او سیاسي ملنګي به کول٠ چي په هره غونډه او ناسته پاسته کي یوازې د مشورو لوی لوی لستونه جوړول او خپل وخت پرې تېرول او د ننګوني پـه مخامخ کېدو سره بیا نور هم سیاسي ملنګی ته په دې خبره را اړول چي دا افغانستان ولا که جوړ شي!
۵- او د خپل وجدان او د کړېدلي، ځورېدلي، جنایت او جنایت کوونکو تـه یرغمل ولس او هېواد د ځګېروي غږ اورېدل او د ژغورني لپاره متې رانغاښتل٠
زموږ په اند دا ځلور پاسنی یاد شوې لارې نـه یوازې دا چي غندو یې بلکي دا د ورانـی او بربـادی عـاملین دي او ولس ته مو هم په ګوته کړلي چي له دغه بې پته پیغورنو څخه ځان او خپل ماشومان وژغوري٠
موږ پینځم بدیل باندې ګروهه لروو چي ورته متې راونغاړوو او کار پیل کړوو چي په خپلې مبارزې سره به دا تر سره کوو٠
د افغانستان د ژغورلو او حل لاره؛
لکه څنګه چي دا اوس یوه جوته شوې خبره ده چي افغانستان جنایت او جنایت کوونکو تـه یرغمل دی او دا یرغمل توب په کورني او نړۍ وال سیاست تر سره شوی نو له دې دلویې بلا او سیاسي شیشکي مور څخه یې ژغورل هم په داسي یوه سیاست تر سره کېدای شي چي هغه کورنی او نړۍ وال اړخ ولري٠


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

مونږ د دې ژغورنې لپاره يوه سياسي او نړۍ وال مورچل ياني سياسي ګوند جوړولو ته اړتيا لروو٠ کله مونږ غواړوو چې خپل ولس او هېواد وژغوروو، عدالت او سوله ټينګه کړوو او پرمختګ راولوو نو مونږ ته په کار ده چې همداسې يو پياوړی مورچل جوړ کړوو٠ يوداسې سياسي مورچل او ګوند د خپلو ځوانانو په سپېڅلو او پياوړو لاسونو جوړ کړوو چې هم کورنی سياست وکړي او هم نړۍ وال٠ کورنی په دې چې د خپل ولس ژغورلو لپاره خپل ولس په غورځنګ راولوو٠ او نړۍ وال په دې چې لکه څنګه چې پاس دا خبره مو جوته کړله چې د ټولو لويو لويو جنايت کوونکو ملاتړي همدا د نړۍ والې ټولنې سياسيون او ځينې ګټه پالې کړۍ دي٠ نو که مونږ د نورې نړۍ د تجروبو څخه ګټه پورته کړوو لکه څنګه چې حضرت باچاخان، ګاندي جي او نلسن ماندېلا چې ولسونه يې همداسې جنايت او جنايت کوونکو ته يرغمل ګرځول شوي وو دوی هم د نړۍ والو په وېښ وجدان غږ وکړ٠

دوی خپل هېوادونو کې همداسې ولسي غورځنګونه جوړ کړل چې خپل ټول ولسونه يې راوېښ او په غورځنګ کړل او بيا يې د نړۍ والوپه وجدانونو کار پيل کړ او په يوه وجداني دريځ سره يې د دوی وجدانونه هم راوېښ کړل چې په همدې نړۍ والو مرستو او ملاتړونو يې د جنايت کوونکو ملاتړو لاسونه لنډ کړل او خپل ولسونه او هېوادونه يې وژغورل٠

د جنوبي افريقې مبارزينو د خپل ولس او هېواد چې د جنايت کاره اپارتايد لخوا يرغمل نيول شوی ؤ او ټول غرب هم د دغه جنايت کاره اپارتايد ملاتړ کولو د ژغورلو او خپلواکۍ لپاره يې څومره په مېړانه مبارزې زده کړلې او تر سره يې کړلې٠

نېلسن منډېلا ته ډاکټر مصطفی د الجزاير د خپلواکۍ غورځنګ مشر مشوره ورکړې وه چې د نړۍ د ولسونو خيال خپلول د جبهې الوتکو د يوه لښکر څخه هم ډېر ارزښت لري٠

په يوولسم د جون ۱۹۶۴ کله چې د افريقې ملي کانګرس غړو هر يو نلسن منډېلا ، والټر، ريمنډ، احمد کټرادا، ګو ون، انډروو، الياس او ډېنس چې دوی ته سزا اورول کېدله نو په هماغه ماښام د دوی وکيلان راغلل چې دوی سره په دې خبره سلا مشورې وکړي چې ددوی د سزا پر وړاندې د اپيل يا عريضې کول له کومه ځايه او څه رنګ پيل کړي٠ دا ځکه چې دا خبره نيژدې پخه غوندې وه چې دوی ټولو ته به د مرګ سزا اورول کېږي٠ نو وکيلانو د اپيل په سر د دې مبارزينو سره د خبرو لپاره راغلي ول٠ چې په دې هکله نېلسن منډېلا وايي:

په هغه شپه وروسته له هغې چې ما (نېلسن منډېلا) والټر سيسولو او ګو ون مونږه خپلو مينځونو کې سره سلامشورې وکړلې نو مونږ خپلو مدافع وکيلانو ته په ډاګه کړل چې که مونږ ته هره سزا راکړل شي ان که په دار کول هم وي (مرګ سزا) مونږ به يې پر وړاندې اپيل او د بدلون لپاره يې عريضه ونکړوو٠ زمونږ پرېکړې زمونږ وکيلان هك پك اريان کړل٠ والټر ، ګو ون او زه (نېلسن منډېلا) په دې ګروهه وو چې اپيل او عريضه کول به زمونږ وجداني دريځ ړنګ کړي٠

او په هماغه ورځ په ټوله نړۍ کې د جنوبي افريقې د مهکمې پر وړاندې نړۍ وال غبرګونونه تر سره شول چې يوه بېلګه يې د برېتانيې د پارلمان يا ولسي جرګې پنځسو غړو (۵۰) په لندن کې لاريون وکړ، د امريکې د کانګرس غړو دا مهکمه وغندله او ان په نړۍ واله کچه د سمندرې پولو د بېړۍ ډکولو کارګرانو د دې پرېکړې پر وړاندې داسې غبرګون وکړ چې دوی به د جنوبي افرېقې د جنايت کاره اپارتايد مالونه نه په بېړيو کې بارکړي او نه يې هم ترې راکوز کړي٠ د ا ټول په خپل سر او ناڅاپي توګه ونه شول٠ دا د جنوبي افريقا د کانګرس ګوند د کورنيو او نړۍ والومبارزو په برکت وشول چې دوی د بشريت پر وجدان باندې وجداني او سياسي اغېزه وکړله٠

مونږ هم په خپله نړۍ واله مبارزه کې کولای شوو چې دلته دا نړۍ وال سياسيون او ولسونه په يوه وجداني دريځ سره وننګوو؛

هغه افغانان او د افغانانو خواخوږي چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې اوسېږي چې زمونږ د ولسي غورځنګ ملاتړي کړوو او زمونږ سره په نړۍ واله مبارزه کې برخه واخلي او د بېلګې په توګه دا کرښې ورته په هر ډګر کې په ټوله غربي او شرقي نړۍ کې په ليکلي ، وېيلو او وېډيويي ډول له سفارت خانو څخه تر پارلمانونو او مېډيا او مدنې ټولنو او ان لارو کوڅو کې خپرولای شو او داکار نن سبا بيا ډېر ګران نه دی دا ځکه چې ډله ابزه مېډيا د بشريت په واك کې ده :

يو څو بېلګې يې؛

□د سوکرات تل پاتې خبره ده چې □ : جنايت کړل او سزا نه ورکول کېدل د جنايت په خاتر تر ټولو بده غلتي او لويه بلا ده٠) □ اپلاتون او ګورجايس ، ۷۶ پاڼه)٠

□زمونږ په آند جنايتکاران ، ټوپکيان ، د سړيتوب تېري کوونکي او ډله ايز وژوونکي داسې بې محاکمې او سزا پرېښودل ،او په کړېدلو باندې يې واکداران کول، دا د تر ټولو لوی خيانت، غلتۍ او لويې بلا مور ده په افغانستان کې،


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

مورږ برك اوباما او د ناټو هېوادونو مشرانو څخه پوښتو چې دوی څنګه دا خپله ملګرتیا او انډېوالي په وجداني او اخلاقي ډول توجې کوي چې دوی یې د جنایت کارانو، ډله ابز وژونکو، ټوپکیانو، مخدره موادو قاچقچیانو، سرټیټوب څخه تېري کوونکو او بډې خوړونکو سره لري؟ (فهیم پښتون وردګ)

هېڅ یو ویاړلی برېټانوی ، اروپایی او امریکاکی به دې ته ایجازه ورنکړي چې د دوی ولسي جرګې ته داسي کسان لکه تېموتي مك وي (چا چې په اوکلهاما کې دولتي ماڼۍ په بمونو والوزوله)، ډاکټر هرولد شپمن ( دا هغه داکټر دی چې نیږدې درې سوه خپل ناروغان یې وژلي ول) ایین هنتلي ( دا هغه کس دی چې په دو دوولس کلنو ماشومانو یې جنسي تېری کړی ؤ او بیا یې وژلي وې) او کرادچ ( دهغه سربی دی چې په بوسنیا کې یې په لسهاو زره ښځې ، ماشومان او زاړه یې ووژل) او دوی غوندې کسان ور دې ننه کړای شي.

دا بیا ولې په افغانانو باندې تپل کیږي ؟

په همدې ډول مورږ د پنجاب او ایران ولسونه هم په وجداني کچه ننګولی شوو؟

که چېرې مورږ داسې یو پیاوړی مورچل جوړ کړوو نو ټول ځوانان به د سیاسي مبارزې لپاره هیله مند شي او د وسله والې مبارزې، د جنایت کوونکو سره د ملګرتیا، دا جنایت کوونکو د ماموریت او سیاسي ملنګۍ څخه مخ واړوي او زمورږ د مورچل ملګري به یې کړوو.



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ